# زيرى

علمي- څېړنيزه او ادبي پنځلس ورځنۍ جريده — د تأسيس کال ۱۳۱۶ هجري شمسي

دوشنبه، (۵-۶مه) گڼه، درېيمه دوره، پرله‌پسې (۳۷۳-۳۷۴مه) گڼه، د ۱۴۰۰ل.کال د جوزا(غبرگولي) د مياشتې ۳۱مه، د ۱۴۴۲هـ.ق. کال، د ذوالقعده د مياشتې ۱۱مه او د ۲۰۲۱ز.کال، د جون ۲۱مه.


**د اداري يادښت:** د ۱۴۰۰ لمريز کال د جوزا مياشتې (۵-۶مه) گڼه چې په ۱۴۰۰لمريز کال کې يې د چاپ او خپراوي تمه کېده، د چاپ ځنډ او وروسته په هېواد کې د سياسي تحولاتو له امله ځنډېدلې وه، د اسلامي امارت له راتگ سره دا دی تر بيا کتنې وروسته چاپ او خپرېږي.

# ژبه؛ يوه خاصه ټولنيزه پېښه




څېړنپوه مولاجان تڼيوال

ژباړه او لنډيز


ډېرى خلک په تېره بيا هغه کسان چې په سياسي گوندونو او سازمانونو پورې تړلي وي په ټينگه سره دا وايي چې اقتصاد زېربنا او نورې پديدې په روبنا کې راځي، خو ژبپوهنه د دې نظر او دا ډول څرگندونو سره موافقه نه ده. دا سمه ده چې اقتصاد زېربنا بلل کېږي او د يوه سياسي اقتصادي نظام په چوکاټ کې ډېرې مؤسسې او جوړښتونه اساسي بدلون کوي. هغه څه چې خپل طبعي جوړښت ساتي يواځې ژبه ده، ځکه چې ژبه د يوه يواځيني سياسي- اقتصادي جوړښت او ترتيب محصول نه، بلکې د ډېرو او ډول ډول جوړښتونو محصول ده او هر يوه او هر ډول سياسي- اقتصادي جوړښت ته يې خدمت کړى او کوي يې. له دې څخه سترگې نه شو پټولاى چې د مختلفو جوړښتونو د رامنځته کېدو، پايښت او دوام په اوږدو کې په ژبه په تېره بيا د هغې په ويي پانگه او د ځينو وييونو په مفهومونو کې توپيرونه رامخې ته کېږي، مگر دا ډول توپيرونه د ژبې بنسټيز چوکاټ او جوړښت نشي تغييرولاى، همدا علت دى چې ژبه په روبنا کې نه راځي او نه يې ځوک په کې راولي. بده به نه وي که د پورتنيو ټکو د روښتيا لپاره لومړى د روبنا او زېربنا نومونې لږ جوتې کړو او له هغه نه وروسته اصلي متن ته راشو.

په ((پښتو- پښتو تشريحي قاموس دويم ټوک)) کې د روبنا په باره کې داسې ليکل شوي دي: سوپر سټرکچر، ټولنيز شعور[1] د يوې ټولنې د روحياتو، افکارو او عقايدو جونگ چې په هر فورماسيون کې ځان ته خپلې ځانگړتياوې لري او د دغو توکو څخه مرکب دى: ۱ـ ايډيالوژي يعنې د هغو اندونو مجموعه چې ټاکلې ټولنيز مناسبات منعکسوي؛ ۲ـ افکار، حالات، خيالونه، احساسات، دودونه، اداب او د خلکو سليقې او ذوقونه چې ټولنيزه اروا گڼل کېږي؛ ۳ـ د يوې ټاکلې ټولنې سياسي، حقوقي، اخلاقي، مذهبي او ښکلاييز نظريات؛ ۴ـ ټولنيز تنظيمونه لکه دولت، گوندونه، محکمې، مسجدونه، اتحاديې، کليساوې او د تفريح ځايونه؛ ۲) اق(اقتصاد)، سوپرسټرکچر، هغه روحي او ذهني عوامل چې پر اقتصادي فعاليتونو باندې اغېز ښندي. په همدې ډول په پاس ياد شوي قاموس او هماغه ټوک کې د زېربنا په اړه ليکل شوي دي چې:...؛ ۱) توليدي مناسبات، د ودې په يوه ټاکلې مرحله کې د يوې ټولنې اقتصادي نظام يا د توليدي مناسباتو جونگ؛ ۲) اق، هغه مهم جوړښتونه او ضروري اساسي تسهيلات چې د اقتصادي فعاليتونو د پراختيا او پرمختيا لپاره لازم وي لکه سړکونه، بندونه، بانکونه، راز راز گټورې مؤسسې او نور.[2]

د دې واقعيت څخه چې په ټولنه کې د ژبې رول دا دى چې د پوهولو راپوهولو د يوې وسيلې په توگه خدمت کوي دا په لاس راځي چې په ټولنيزو پديدو کې ژبه يو ځانگړى دريځ لري. دا هغه څه دي چې سم[3] نه دي پوهول شوي. کله کله خو ژبه په ناسمه توگه په روبنا[4] کې شمېرل شوې ده. روبنا د ټولنيز پرمختگ په شته (موجوده) برخه کې د اړوندو سياسي، حقوقي، فلسفي، هنري او ۳مخ


څېړنيار عزيزالله مبارز


# عبدالرحمان بابا ته منسوب الحاقي شعرونه

الحاقي شعرونه هغو شعرونو ته ويل کېږي چې په يو شاعر پسې داسې شعرونه وتړل شي، چې د هغه نه وي. الحاق تړلو ته وايي او په پښتو- پښتو تشريحي قاموس کې يې ځينې معناگانې په لاندې ډول راوړل شوي دي: ((الحاق: سره يو ځاى کېدنه، تړون، ضميمه کېدنه))(۱: ۷۸مخ)

رحمان بابا د خپل محبوبيت له مخې په پښتنو کې ډېر مشهور دى او شاعري يې د خلکو په خولو کې لکه د لنډۍ په څېر هسې جاري ده. د ډېر محبوبيت له امله د رحمان بابا ځينې شعرونه او بيتونه غلط شوي دي، ځينې کلمې يې هم بدلې شوي دي او ځينې داسې بيتونه هم شته چې په مقطع کې د رحمان بابا نوم راوړل شوى وي او هغه د رحمان بابا گڼل شوي وي، حتى د رحمان بابا په ديوان کې چاپ شوي دي؛ لکه

**هر ناوک چې د قضا له شسته خېږي**
**زمانه د رحمان زړه ورته اماج کا**

(۲: ۱۹مخ)

**زه يو خوار و زار يمه رحمان په عاشقۍ کې**
**خپل دې که پردي دي راته نه گوري له عاره**

(۳: ۱۴۳مخ)

پورتني بيتونه د دوو بېلابېلو غزلونو د مقطع بيتونه دي او د عبدالرحمان بابا په چاپي ديوانونو کې راغلي دي، خو دغه مقطع لرونکي غزلونه د خوشحال خان خټک دي، د استاد حبيب الله رفيع په تدوين شوي خوشحال خان خټک ديوان کې لومړى غزل په (۱۳۹- ۱۴۰مخونو) او دويم غزل په (۵۱۹- ۵۲۰مخونو) کې راغلى دى.

ځينې داسې شعرونه هم شته چې رحمان بابا نه دي ويلي، خو اوس دومره مشهور شوي چې په رحمان بابا پورې تړل شوي دي؛ لکه لاندې بېلگه

**اورېدلي مې نومونه هم څلور دي**
**نازل شوي کتابونه هم څلور دي**
**د څلورو فرشتو په لاس نظام دى**
**امامان دي مسلکونه هم څلور دي**
**په څلورو بازوگانو دې سفر دى**
**جنازه کې تکبيرونه هم څلور دي**
**رحمان وايي د څلورو ملگرتيا کړه**
**ستا د قبر دېوالونه هم څلور دي**

ځينې داسې شعرونه او بيتونه چې د مقطع له مخې رحمان بابا ته منسوبېږي او موږ يې رحمان بابا ته منسوب او الحاقي شعرونه گڼلى شو، د خلکو په خولو کې دومره عام شوي چې د متل په څېر يې کاروي؛ لکه

**چې په زړه کې دې څه عيب نه وي رحمانه!**
**ښکلي مخ ته په کتو کې گناه نه شته**

يا دا لاندې بېلگه

**خپل پردي په کې معلوم شي اى رحمانه**
**کله کله د غمونو باران ښه وي**

په پورتنيو بېلگو که څه هم د رحمان بابا نوم راغلى دى، خو د رحمان بابا د شعرونو په ديوان کې دغه بيتونه نه موندل کېږي، له دې څرگندېږي چې پورته بيتونه رحمان بابا ته منسوب الحاقي بيتونه دي ځکه چې د هغه نوم په کې راغلى دى.

پورته مو رحمان بابا ته منسوب ځينې شعرونه چې په کلياتو کې چاپ شوي دي راواخيستل او هم مو ځينې بېلگې چې ډېرې عامې دي او تقريباً د هر چا غوږونو ته به رسېدلي وي راوړې دي، اوس ځينې نورې بېلگې چې په ټولنيزو شبکو کې د رحمان بابا په نوم جوړو شوو گروپونه کې خپرېږي له دغو گروپونو څخه رااخلو:

**زه رحمان د بېغرتو په خلاف يم**
**غيرتي که مې دښمن وي زنده باد**

**زه رحمان د خپل رحمان عبدالرحمن يم**
**ځوک چې ما رحمان بولي هغه کافر دى**

**زه رحمان د خداى بنده يم دا مې حال دى**
**چې بنده د بل بنده شي څه به يې حال وي**

**زه رحمان په سپينه ږيره لېونى شوم**
**خداى خبر چې د ځوانانو به څه حال وي**

**د رحمان وينا به هله در په ياد شي**
**چې دې يو دېوال ته مخ بل ته دې شا شي**

په پورته بيتونو کې د رحمان بابا نوم په څرگند ډول د بيت په سر کې راوړل شوى دى او له مخې يې رحمان بابا ته دغه بيتونه منسوبېږي.

**چې غربت دې لمن ونيسي رحمانه**
**در معلوم به شي ياران ټکي په ټکي**

**د محشر وېره مې نشته اى رحمانه**
**زه د داسې نازولي امتي يم**

**دا د گل غوندې مخونه به پناه شي اى رحمانه**
**مرگ يوسف غوندې جمال قبر ته يوړو**

په پورته بيتونو کې د رحمان بابا نوم په څرگند ډول د بيت په پاى کې راوړل شوى دى او له مخې يې رحمان بابا ته دغه بيتونه منسوبېږي.

د رحمان بابا هغه شعرونه چې د خواله رسنيو په ځينو گروپونو کې خپرېږي، خو په ښکاره ډول په بيت کې د رحمان بابا نوم نه وي راغلى، خو استناد يې پرې کړى وي چې د رحمان بابا شعر دى، بېلگې يې لاندې گورو:

**دومره کوږ له کبره مه څه زوروره**
**ديوالونه چې کاږه شي چپه کېږي**

**ملنگ سړى يم بادشاهي په لاس کې مه راکوئ**
**هسې نه ټول جهان لوگى کړمه د يار له سترگو**

په خواله رسنيو کې د رحمان بابا ځينې داسې شعرونه يا بيتونه هم تر سترگو کېږي چې ۳مخ

# د مقالې ليکلو لارې چارې

نهمه برخه




ليکواله: مېرمن رياحي

څېړنيار فضل الرحمن عليزى

ژباړه


## اتم گام

## د څېړنې مواد او ميتود (Material & Method)

د کار د طريقې او دود څرنگوالى د څېړنيز راپور او مقالې زړه دى. په دې ځاى کې له دې پوښتنې سره مخامخ کېږو چې په څېړنه کې کوم مسايل څېړل شوي او کومه پايله تر لاسه شوې ده؟

د ميتودونو په برخه کې بايد پورته پوښتنه منطقي ترتيب شي يا هم په منطقي ډول بايد تشريح شي، چې څېړنه څنگه ډيزاين او پلې شوې ده او معلومات په څه ډول او څنگه تحليل شوي دي. په دې برخه کې بايد ټول ياد شوي موارد په ښه ډول او تفصيل سره روښانه شي. دا برخه بايد په داسې شکل سره وليکل شي، که چېرته يو څېړونکى په همدغې موضوع باندې بيا ځلې کار کول غواړي يا ستاسو د تر سره کړي کار په اړه نوى کار کوي، نو ښه په راحتۍ سره هغه تر سره کړي، يعنې داسې کومه پېچلتيا ونه لري چې د نورو څېړونکو لپاره پېچلې ښکاره شي او له ستونزې سره مخامخ شي، بلکې ډېر ښکاره او واضح ډيزاين شي، تر څو هر څوک ورباندې پوه شي.

د کار د ميتود برخه له څو فرعي برخو څخه جوړه شوې ده:

### الف) د مطالعې ډول

په څېړنه کې بايد د مطالعې ډول هم وښودل شي، يعنې چې دا څېړنه د کومې مطالعې پر اساس شوې ده يا دغه څېړنه په کوم اساس شوې ده؛ لکه ( تجربې، غير تجربوي، سروې او...)

### ب) برخه‌وال (Subjects)

په دې برخه کې په څېړنه کې د گډون کوونکو يا برخه‌والو بېلگې او شمېر را وړل کېږي؛ لکه (انسان، حيوان، او نور)، جنس، عمر او د دوى په اړه نور اړين معلومات او همدارنگه، په څېړنه کې د دوى د گډون د څرنگوالي او برخې اخيستنې په اړه معلومات ليکل کېږي. دلته بايد په څېړنه کې د نمونې اخيستلو دود، په څېړنه کې د بېلگو د راوړلو او يا د بېلگو د ردلو دليلونه هم راوړل او بيان شي. په څېړنه کې د گډونوالو د بېلگو د منلو او نه منلو معيارونه (including, excluding criteria) هم بايد روښانه شي. په څېړنه کې چې کومې بېلگې راوړل شوې دي، دليل يې څه دى او ځينې بېلگې ولې ايستل شوې دي؟ يعنې د بېلگو د راوړلو په برخه کې بايد توضيح وړکول شي.

### ج) مواد

که چېرې د څېړنې په وخت کې ځينې توکي يا تجهيزات کارول شوي وي، لکه کيمياوي توکي يا د څېړنې د سرته رسولو نور اړوند توکي، بايد يادونه يې وشي، ځکه که چېرته يو بل څوک غواړي چې په دې برخه کې نورې څېړنې وکړي او يا په دې اړه دويم ځل څېړنه وکړي، نو بايد د تر سره شوې ۳مخ

لیکوال: پروفیسر انور جمال
ژباړه: نازو کمال




### ۱۲. ادب (Literature)

تمیز، تهذیب او د ژبې د علم معناوې ترې اخیستل کېږي. د ادب اصطلاح د هنر یوه تخلیقي برخه ده، خو مجلسي اداب، مېلمه پالنه، تعلیم، تعلم، صرف، نحوه او د ژبې پېژندنې مفاهیم هم پکې شامل دي. ابن خلدون ادب علم ګڼي. تر څه مودې پورې د املا و انشاء په معنا هم کارېده. په دقیق ډول معلومه نه ده، چې په ادب کې تخلیقي عنصر کله او څنګه شامل شو، خو دا جوته ده چې خیال، تخیل او تصور د ادب اصطلاح ته نوی رنګ ورکړ. غربي پوهانو یې په اړه بېلابېل تعریفونه وړاندې کړي دي:

مایي کېن لیکي: قدرت چې انسان ته کوم صلاحیتونه ورکړي، د هغو اظهار ته ادب ویل کېږي. نیومېن بیا د انساني افکارو، خیال او احساساتو بیان ادب ګڼي. مېتیو آرنلډ بیا ټول هغه علوم چې د کتابو له لارې موږ ته را رسېدلی، ادب ګڼي. په دې ټولو تعریفونو کې لیکل د ادب روح ښودل شوی دی. په دې تعریفونو کې که د آرنلډ تعریف ومنل شي، نو بیا جغرافیوي مسایل، ټولنیز اصول، هندسي مسایل هرڅه په ادب کې شاملېږي، خو داسې نه ده، نو ویلی شو چې تخلیقي برخه لکه: ناول، ډرامه، شاعري او کیسې په ادب کې راځي.

### ۱۳. ادبي روایت (Literary Tradition)

د ادبیاتو په تاریخ کې د شته پخوانیو موادو تسلسل پر ادبي روایاتو بدلېږي. د ادیب/شاعر او لوستونکي ترمنځ د واټن د ختمولو ټکي ته په اصل کې ادبي روایت وایي. که د ادبیاتو لوستونکي له ادبي روایاتو سره آشنا وي، په ادبیاتو هم په اسانۍ پوهېږي، په دې معنا چې له پخوا زمانې څخه تر اوسه ټوله ادبي خزانه، لکه تشبیه ګانې، استعارې، تلمیح، اصطلاحات، ابلاغ، علایم، اشارې، بیان، د ژبې جوړښت او په جملو کې د قرینو ټولګه ادبي روایات دي، چې له پخوا په ادب او شاعرۍ کې رامنځته شوي دي. د شاعر او لوستونکو باید ادبي روایات زده وي، ترڅو د ادبیاتو په مفهوم او معنا ښه او سم وپوهېږي.

### ۱۴. اظهار، بیان (Expression)

کوم واقعیت چې تر دې دمخه پټ وي، د هغه بیانولو ته اظهار وایي. نو ځکه اظهار یوه موضوعي اصطلاح ده. اظهار په یو نه یو ډول انساني صفت هم دی. انسان ته ځکه ناطق ژوی ویل کېږي، چې د استدلال او د خپلو فکرونو د بیان وړتیا لري. شاعري، موسیقي او نقاشي دا ټولې هنري ژبې دي، چې استدلالي نوعیت نه، بلکې اظهاري یا بیاني قوت لري. اظهار بېلابېل ډولونه لري. په هنري نړۍ کې اظهار یو سبک هم دی، چې هدف یې پدیدو او کیفیتونو ته په ژوره کتل دي.

### ۱۵. کیسه ګۍ (Short Short Stor)

په نثري قالب او په کمو الفاظو کې د انساني تجربو بیان ته کیسه ګۍ وایي. ادبیاتو ته دا فورم له انګریزي ادب څخه راغلی دی، په شاعرۍ کې لنډکی شعر او په نثر کې کیسه ګۍ څه نا څه سره ورته دي، خو د نورو فورمونو په څېر یې په ځینو ادبیاتو کې هومره شهرت ترلاسه نه کړ.

### ۱٦. لنډه کیسه (Short Story)

نثري فورم او د داستان پرمختللی شکل دی. دمخه عنعنوي داستان چې تر عقله د پورته پېښو مجموعه وه، وروسته وروسته یې د ناول په قالب کې څه نا څه حقیقي بڼه خپله کړه، تر دې وروسته په شلمه پېړۍ او د ماشینونو په زمانه کې لا پرمختللې شوه او د لنډې کیسې بڼه یې خپله کړه. که څه هم ناول د یوه جلا نثري فورم په حیث خپل ځای لري. لنډه کیسه د ژوند د یوه داسې اړخ هنري او فوق العاده انځور دی، چې عموماً د کیسې په شکل بیانېږي. داسې یوه لیکنه چې د لنډون او اختصار اساسي شرط په کې ګڼل کېږي. په غربي ادبیاتو کې ایدګر الن پوه کیسې ته د یوه جلا نثري فورم حیثیت ورکړ، قواعد او اصول یې ورته وټاکل. تر دې وروسته اروپایي لیکوالانو: موپسان، تولستوی، مکسیم ګورکي او اور لارنس دې فورم ته لا پرمختګ ورکړ.

### ۱۸. اقدار (Values)

دا اصطلاح په اصل کې له اخلاقیاتو (فلسفې) څخه ادبیاتو ته راغلې ده. د انسان لپاره ځینې ځیزونه مهم او ځینې اړین نه وي، نو موږ معمولاً هغو شیانو ته ډېر پام کوو، چې راته مهم دي او هغو ته ارزښت نه ورکوو چې راته مهم نه دي. هغه اقدار موږ ته ډېر د ارزښت وړ وي، چې له موږ سره د خپلو غوښتنو او هیلو په پوره کولو کې مرسته کوي. کوم ارزښتونه چې انساني فطرت ته آرامي وربخښي، د دوی له وجې زموږ نوره هیلې او غوښتنې هم آرامتیا مومي.

### ۱۹. عالي اقدار (لوړ ارزښتونه)

د یوناني فیلسوفانو له نظره لوړ اقدار درې (حسن، خیر او صداقت) دي. دا ارزښتونه په خپل ذات کې لوړ دي، په دې اړه د ټولې نړۍ ټولنیز شعور په یوه خوله دی او وایي چې نور ټول اقدارونه یا ارزښتونه اضافي دي، خو دا درې واړه خپلواک، او ترځنګ د شرق او غرب، له زمان مکان څخه آزاد دي. دولت، عزت، شهرت او نور ټول اقدار اضافي دي، یوازې ښکلا، خیر او صداقت لوړ، مستقل او نه بدلېدونکي دي.

### ۲۰. الیګري (Allegory)

دغې اصطلاح له انګریزي تخیلي ادب څخه نورو ادبیاتو ته لاره موندلې ده. او داسې منظومې یا نثري کیسې ته ویل کېږي چې کرکټرونه، یعنې اشخاص، ځیزونه یا پېښې یې تمثیلي ځانګړنې ولري. یعنې دوی ذاتي موجود نه دي، بلکې د تخیل په واسطه رامنځته کېږي. الیګري پر کرکټرونو ولاړې کیسې هم نه دي، بلکې داسې کیسې دي چې ځینې انساني ځانګړنې او خصوصیات پکې انځورېږي. په الیګري کې پېښې او تصورات په انځوریزه بڼه وړاندې کېږي، په دې معنا چې الیګري داسې کیسه ده چې نالیدل شوي ځیزونه په تصویري بڼه په کې بیان شي. همدارنګه په دې ډول کیسو کې مینه، عقل، توبه، شهرت، غوښتنې، ښکلا، نیکي او داسې نور ځیزونه د کرکټرونو په شکل کې رامنځته کېږي.

### په پېښور کې د میرویس نیکه...

د سیمینار په دویمه برخه کې مشاعره وشوه؛ شاعرانو خپل شعرونه واورول چې د ګډونوالو له خوا وستایل شول.

د یادونې وړ ده، چې په تېره میاشت کې د یادو ادارو له خوا د ایمل خان بابا په یاد هم سیمینار جوړ شوی و.

### د پښتو معاصر ادب مخکښ لیکوال طاهر اپریدی ...

ښاغلی شکېب زیاتوي چې ښاغلي اپریدي بچیان نه درلودل او یواځې د پام وړ آثار ترې پاتې شوي دي.

نوموړي په اردو ژبه هم د لنډو کیسو دوې ټولګې لیکلې او چاپ کړې دي.

د خپلې لیکوالۍ تر څنګ ښاغلي اپریدي د جرس ادبي ټولنې په نامه د کراچۍ مېشتو پښتنو لیکوالو او شاعرانو یوه ټولنه هم جوړه کړه، چې د عمر تر پایه یې مشر پاتې شو. دغه راز نوموړی د جرس په نامه د ادبي مجلې مسئول مدیر و چې تر کلونو پورې یې په شخصي لګښت چاپوله.

د جرس مجلې غزل او نظم شمېرې په ځانګړي ډول په کتابي بڼه چاپ شوې دي، چې د معاصر پښتو شعر خورا پربمانه شعري زېرمه په کې خوندي شوې ده.

### مصطفی عمرزی له موږ ...

ځینې آثار یې دا دي:

افغان ها، چهره های سیاسی افغان، روزګار، یک قرن در تاریخ و افسانه، محوطه‌ی سیاه، فساد نزدیک، در متن مدعا، پندار ستمی، ما همه «افغان» استیم، رنسانس افغانستان، معنی، افغانامه، دُر دری، نګرش نو بر شاهنامه و فردوسی، رسانه ها، مدیریت و نوسان ها، سیر فرهنګی، تأمل و تعامل فرهنګی، پشتون ها، ملي رسالت، سخن در سخن، تاریخ عمیق (طنزها)، با زبان دری، رسانه های کنونی افغانی، آرکاییسم، دری افغانی، افغانستان در پیچ و خم سیاست، هنر در سینمای افغانان، ساختار هندسی شعر پشتو(ترجمه)، درست نویسی پشتو (ترجمه)، فقر فرهنګی(ترجمه).

### د احمدشاه بابا د ۲۴۹ تلین ...

حکومت په جوړښت، د احمدشاه بابا د ټاکل کېدو، د پوځ او اداري تشکیلاتو، هندوستان ته د هغه د سفرونو، لاملونو او لاسته راوړنو، کورني او بهرني سیاست، د بابا په دوران کې اجتماعي، اقتصادي او فرهنګي وضعیت، شاعري او خصلتونو په تړاو معلومات شریک کړل.

### پوهاند باوري د ژوند له قافلې ...

نوموړي په هالنډ هېواد کې د لرغونپوهنې په برخه کې تر ماسترۍ کولو وروسته په خوست کې د شیخ زاهد پوهنتون د رئیس او تر هغه وروسته د کابل پوهنتون د لرغونپوهنې څانګې مشر او استاد، د پوهنې وزارت د نصاب مسئول او په دې وروستیو کې د افغانستان د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت فرهنګي معین و.

رسول باوري د هالنډ په Rijksuniversiteit Groningen پوهنتون کې هم استادي کړې ده، په ۱۳٦۵ کال د علامه طرزي د لیکوالۍ مډال او په ۱۳۹۳ کال د غازي میر بچه خان مډال هم ورکړل شوی دی.

استاد باوري تر ۳۰ ډېر علمي اثار او تر سلګونو علمي او څېړنیزې مقالې لیکلې دي، چې ځینې یې دا دي:

د روښانیانو غورځنګ، ۱۳۵۸.

اصول و تحقیقات باستانشناسي، کابل پوهنتون ۱۳٦۱.

باستانشناشي شرق میانه، کابل پوهنتون، ۱۳٦۲.

باستانشناسي کشورهای همجوار، کابل پوهنتون، ۱۳٦٤.

باستانشناسي افغانستان، کابل پوهنتون، ۱۳٦۵.

اصول ترمیم و بازسازی اثار باستاني، کابل پوهنتون، ۱۳٦٦.

افغانستان در عهد باستان، دولتي مطبعه، ۱۳٦۷.

باستانشناسی ساحوی (اصول حفریات)، کابل پوهنتون، ۱۳٦۸.

لرغونپوهنه، پرنسیپونه او میتودونه؛ ملي موزیم، ۱۳٦۹.

باستانشناسی مدنیتهای اولیه افغانستان، کابل پوهنتون، ۱۳۷۱.

موزیم شناسي و سیر موزیمها در افغانستان، ۱۳۷۴.

لرغونپوهنه، عملي لارې چارې؛ په جرمني کې د افغانستان فرهنګي ودې ټولنه، ۱۳۸۱.

په افغانستان او ګاونډیو هېوادونو کې نړیوال کلتوري میراثونه، ۱۳۸٤.

لرغوني نړۍ (د ژباړل شویو مقالو ټولګه).

لرغونی افغانستان او ګاونډي هېوادونه.

د متن او لنډیاني بابوزي (اتنوګرافیکي څېړنه).

وروستی کتاب یې (باستانشناسی عصر فلزات؛ مدنیت های اولیه افغانستان) نومېږي چې په ایران کې د ایکو فرهنګي مؤسسي له خوا چاپ شو، خو ده ونه لید.

### لیکوال او ژورنالیست نبي مصداق ...

او ماسترۍ وروسته دکتورا هم وکړه.

په ۱۹۸۱ کال د بي بي سي پښتو څانګې جوړېدو سره مصداق د دې څانګې ویاند، خبریال او بیا د څو کلونو لپاره مشر و. نوموړی په ۲۰۰۱ کال له بریتانیا امریکا ته لاړ او هلته څو کاله په پوهنتون کې استاد و.

په ۲۰۱۵ کال کې د جمهوري ریاست مطبوعاتي سلاکار شو او تراوسه یې دا دنده درلوده.

### د مقالې لیکلو...

کې برخه واخلي.

۴. د امکان تر کچې دې په څېړنه کې د برخه‌والو کوونکو ټولنیز توپیرونه وښودل شي. د بېلګې په ډول، په څېړنه کې د نجنو او هلکانو شمېر، د دوی منځنی عمر ښودل، د تعلیم کچه، اقتصادي او ټولنیز توپیرونه.

۵. د څېړنې لپاره د برخه‌والو د غوره کولو ټول معیارونه باید یاد شي، یعنې د کومو معیارونو له مخې د څېړنې لپاره دا کسان غوره شوي دي؟

٦. که چېرته څېړنه یوه ازمایښتي څېړنه وي، ټولې لاسته راغلې پایلې او ستونزې باید بیان شي او که چېرته ازمایښتي نه وي، نو د ډلبندۍ ډول یا د رامنځته کېدو ډول یې باید په کره توګه تشریح شي.

**ب) وسایل او ستونزې**

په څېړنه کې کارېدونکي وسایل، پوښتنپاڼې، کتنې، مرکې، د درجه بندۍ مقیاسونه، په دغه راپور کې ټول کارېدونکې وسایل لومړی باید وپېژندل شي او وروسته د ګڼې یا شمېرو له مخې یاد کړل شي او په اخر کې د هغو ارزښت او اهمیت ته اشاره وشي. په دې معنا چې په دې څېړنه کې له دغو او دغو وسایلو څخه کار اخیستل شوی دی، دې وسایلو ښه پایله درلودله او دا ستونزې او مشکلات وو، ځکه که څوک غواړي چې په راتلونکي کې دغه ډول یا هم دې ته ورته څېړنه تر سره کړي، نو ښه خبره دا ده چې دوی هم وکولای شي له یادو وسایلو څخه ګټه پورته کړي.

**ج) د پایلو د را ټولولو دود**

د آزموینې د تر سره کولو د پړاوونو، یا د پایلو د راټولولو په برخه کې باید هره هغه کړنه چې مخکې نه وي تشریح شوې او د څېړنکو لپاره پر هغو باندې پوهېدل اړین وي، باید تشریح شي او لاندې ټکي باید په پام کې ونیول شي:

۱. د څېړنې د تر سره کولو لپاره ځانګړی ترتیب او اخیستل شوي ګامونه؛

۲. د پوښتونکو او د آزموینو ډول؛

۳. د څېړنې وخت؛

۴. ګډون کوونکو ته د ورکړل شوو لارښوونو یادونه؛

۵. د څېړنې د تر سره کولو د هدف او د څېړنې د ترسره کولو په اړه دوی ته د لومړنیو معلوماتو ورکولو یادونه؛ لکه (فردي یا ډلییزه کړنه، د تر سره کولو وخت او د تر سره کولو ځای او داسې نور اړین معلومات.)

## ژبه؛ يوه خاصه ټولنيزه...

اخلاقي مفکورو ټولگه په گوته کوي. روبنا پر اقتصادي بسټ ټاکل کېږي.

په هغو ټولنيزو فورمونو کې چې په متخاصمو او دښمنو طبقو وېشل شوي دي روبنا طبقاتي کريکټر لري او د حاکمې طبقې علايق منعکسوي. ژبه د روبنايي پديدو د بيانولو او ښرگندولو د فورم په توگه په چوپړ(خدمت) بوخته ده، خو په روبنا پورې نه ده تړلې. يوه ژبه د يوه يواځيني نظم يا ترتيب محصول نه ده، بلکې د ټولنيزو اقتصادي نظمونو لړۍ[5] ده. ژبه د ټولنيز بدلون په پړاو کې د يوه ترتيب يا تنظيم څخه بل نظم يا ترتيب ته راډيکال بدلون نه کوي. د نن ورځې جرمني ژبه د هغې (جرمني) ژبې سره چې د ۱۹۴۵ز. کال څخه مخکې په ختيځ جرمني کې ويل کېده په کلي ډول توپير نه لري؛ خو په ويي پانگه کې بدلونونه راغلل، ژبه په داسې ويیونو سره مړه (بډايه) شوه چې له تحولاتويا بدلونونو سره يې مطابقت درلود او د توليد په نوع (ډول) او روبنا کې يې د عمل جامه واغوسته. په هماغه وخت کې يو شمېر داسې ويیونه له کارونې څخه وغورځېدل چې د زاړه نظم يا ترتيب سره تړلي وو، خو په کلي توگه د جرمني ژبې هماغه خپل جوړښت پاتې شو.

د روبنا سره په توپير کې ژبه هيڅ طبقاتي کريکټر نه لري او د ټولنې ټولو غړيو ته يو ډول خدمت کوي. ژبې له لومړي سره يا د منځته راتگ د وخت څخه د ټولو انسانانو په منځ کې د اتصال د يوې وسيلې په توگه خدمت کړی دی. ژبه د يوه واحد سيستم په توگه د ټولې ټولنې لپاره وه. که څېرې دښمنو او متخاصمو طبقو د بېلابېلو سياسي، فلسفي او حقوقي مفکورو غونډې ډول ډول ژبې درلودلای، نو بيا به ټولنيز توليد په هيڅ ډول نه وای ممکن شوی.

طبقې د ژبې په مقابل کې بې تفاوته نه دي. د يوې طبقې استازي کولای شي چې يوې ژبې ته ځانگړي ويیونه او ښرگندونې ور داخل کړي او د خپل نړۍ‌ليد سره سم د يو شمېر ويیونو مفهوم ته تغيير ورکړي.

دلته څو مثالونه (بېلگې) وړاندې کوو:

په لاتين ژبه کې Seruilis د Seruus غلام څخه اخيستل شوي نومځري په غلامانو پورې تړلي يا د مريي په شان مفهوم درلود، خو وروسته همدې ويي د مريانو د ساتونکو په ژبه کې د پست[6] او بې شرمه مفهوم خپل کړ، په همدې ډول په همدغه ژبه کې د Generosus ويي چې د Genus نوږي، Adel اشرافيت د ويي څخه اخيستل شوی دی پخوا يې د ښې کورنۍ معنا درلوده او په را وروسته کې يې د ښو احساساتو معنا خپله کړه. په همدې ډول د جرمني ويي Schlecht خوسا، گنده، پخوانۍ معنا هوار[7]، لړه شبيه مخکې او ساده[8] وه، په پنځلسمه پېړۍ کې نوموړي ويي د قدر وړ، موډرن او ډېر اعلی ويیونو په مقابل کې د لږ ارزښت لرونکي معنا پيدا کړه او له هغه نه را وروسته د Schlicht په بڼه په زړه معنا واوښت.

د نوي وخت د ليدلو وړ يوه بېلگه د کارگر لپاره د کارکوونکي[9] ويی دی چې کار ورکوي او اخلي يې نه. دلته په ژبه باندې د حاکمې طبقې او کاپېټالستانو اغېزه په ښکاره او ښرگند ډول لکه څنگه چې يوه عالم ويلي دي ترسترگو کېږي.

**يادونه:** پورتنۍ موضوع مې د Einfuehrung in die Sprachwiss. نومي اثر څخه را ژباړلې او لنډه کړې ده.

---

۱ـ پښتو- پښتو تشرېحي قاموس- دويم ټوک، د افغانستان د علومو اکاډمي، د ژبو او ادبياتو مرکز، د مېډيوتيک چاپ، ۱۳۸۳کال، ۱۵۱۲- ۱۵۱۳.

۲. پورتنی اثر، ۱٦۲۷مخ

۳. Klar

۴. Ueberbau

۵. Reihe

٦. Niedrig

۷. Eben

۸. Einfach

۹. Arbeitnehmer

## عبدالرحمان بابا ته منسوب...

بيتونه يا نيم‌بيتې يې بدلې شوي دي، په دغو کې د ځينو لومړۍ نيم‌بيتي د رحمان بابا او دويمه يې د کوم بل شاعر يا جوړه شوې نيم‌بيتي وي، يا لومړۍ نيم بيتي بدله او دويمه يې د رحمان بابا وي. په ځينو کې بيا کلمات بدل شوي وي. دلته به يې ځينې بېلگې را واخلو:

**خپل جانان مې هسې نقش دی په زړه کې**
**نه پوهېږم چې رحمان يم که جانان يم**
(۴: ۱۰۹مخ)

**هنر مه غواړه طالع له خدايه غواړه**
**بې سليمانه پکار نه دی که حاتم وي**
(۵: ۲٦٦مخ)

پورته بيتونه د عبدالرحمان بابا دي، چې د رحمان بابا د اشعارو په دېوان کې راغلي دي او بدلې بڼې يې په لاندې ډول دي:

**زه رحمان د يار په مينه ليونی يم**
**اوس حيران يم چې رحمان يم که جانان يم**

**عقل مه غواړه طالع غواړه رحمانه**
**عقلمند د طالع مندو غلامان دي**

په خواله رسنيو کې د رحمان بابا ځينو بيتونو ته ورته بيتونه، چې د نورو شاعرانو له خوا جوړ شوي او رحمان بابا ته منسوبېږي هم ترسترگو کېږي، لکه لاندې بېلگه:

**چې په جيب کې د پيسې نه وي رحمانه**
**چې په ډک بازار ورشې بازار نه دی**

پورته بېلگه د مفهوم او لومړي نيم‌بيتي له مخې موږ د رحمان بابا لاندې بيت سره ورته بللی شو:

**چې مولا ورسره مل نه وي رحمانه**
**که لښکرې ورسره وي يک تنها دی**
(٦: ۱۸۳مخ)

پورته بيتونه که څه هم عبدالرحمان بابا ته منسوب او الحاقي شعرونه دي، خو په عام ډول دومره مقبول شوي دي چې د اثبات څخه يې انکار هم نه شي کېدای، ځکه د رحمان بابا نوم په بيت کې په ښرگند ډول په لومړۍ يا دويمې نيم‌بيتي کې راوړل شوی وي.

عبدالرحمان بابا ته منسوب غزلونه هم شته او بيتونه خو زيات دي، چې د نوموړي په ديوان کې نه ليدل کېږي، چې په دې توگه موږ کولای شو ډېر په اسانه هغه ته منسوب بيتونه يا شعرونه وپېژنو.

**مأخذونه**


۱- پښتو - پښتو تشرېحي قاموس، لومړی ټوک، د افغانستان د علومو اکاډمي، د ژبو او ادبياتو مرکز، ميديوتيک (د افغانستان لپاره د ټولنيزو رسنيو مرکز) دويم چاپ، ۱۳۸۳ ل کال.
۲- عبدالرحمن. د رحمان بابا ديوان، پښتو ټولنه، دولتي مطبعه، ۱۳۵٦ل. کال.
۳- پورتنی اثر.
۴- عبدالرحمن. د رحمان بابا ديوان، تحقيق، ترتيب او سمونه: دوست محمد خان کامل مومند او قنلدر مومند.افغان پرنټرز کابل، (---).
۵- عبدالرحمن. د رحمان بابا ديوان، پښتو ټولنه، دولتي مطبعه، ۱۳۵٦ل. کال.
٦- پورتنی اثر.


## د مقالې ليکلو...

څېړنې شرايطو ته ورته شرايط رامنځته کړي، تر څو لاسته راغلي پايلې د شته شرايطو په رڼا کې رد او يا هم تائيد کړي.

که چېرته تاسو په څېړنه کې د ځانگړي برانډ يا ځانگړې سوداگريز نوم کارولی وي، تاسو بايد په لومړۍ برخه کې يا په کوم ځای کې چې هغه کيمياوي نوم يا د هغې د فعاله اجزاوو يا برخو يادونه لازمه وي، هلته بايد يادونه ترې وشي. ځينې مجلې له څېړونکو څخه دا غوښتنه لري چې په خپله څېړنيزه مقاله کې بايد د موادو د عرضه کوونکي يا توليد کونکي نوم او پته ذکر کړي. که چېرته د څېړنې په يوه برخه کې دارو او درمل کارول کېږي، نو د کارېدونکو درملو د رښتينې اندازې يادونه بايد وشي. همدرانگه په څېړنه کې د کارېدونکې مادې د غلظت او د حل د چمتو کولو څرنگوالی هم بايد په گوته شي.

**د) د معلوماتو د را ټولولو دود او طريقه**

د معلوماتو د راټولولو په برخه کې د څېړنې وسايل تشريح کېږي. يعنې د څېړنې وسايل او ماشينونونه، ازموينې، پوښتنليکونه او داسې نورو ډولونه او نمونې ښودل کېږي. دلته ټول هغه وسايل ښودل کېږي چې د څېړنې په بشپړولو کې ورڅخه کار اخيستل کېږي. که چيرې په څېړنه کې کارېدونکي وسايل او تخنيکونه پېژندل شوي وي يا په معياري متنونو کې موجود وي، نو بيا يې په اړه ډېرو معلوماتو ته اړتيا نه پېښېږي، مگر که چېرته په څېړنه کې له داسې وسايلو څخه گټه اخيستل کېږي يا اخيستل شوې وي چې هغه نورو کسانو ته نااشنا وي، نو بايد د هغې وسيلې نوم، ډول او د جوړونکي نوم هم را وړل شي.

په دې برخه کې د ازموينې او پوښتنليکونو په اړه بايد اړين توضيحات ورکړل شي، په ځانگړې توگه د دوی د اعتبار(Validity) او کره‌توب يا باور وړ (Reliability) په اړه بايد اړين معلومات وړاندې شي. د پوښتنو او ازموينو د پېژندنې په برخه کې بايد د مقالې په اصلي متن کې د پوښتنو شمېر هم وښودل شي او که چېرې پوښتنليک يا پوښتنپاڼې ورسره ضميمه شي، نو ډېر به ښه وي، تر څو لوستونکي هم پوه شي چې معلومات يا د څېړنې اړوند مواد يې په څه ډول را ټول کړي يا تر لاسه کړي دي.

**هـ) د تر سره کولو کړنلاره (Procedure)**

په دې برخه کې د څېړنې د تر سره کولو ټول پړاوونه په لنډ ډول را وړل کېږي. دلته په ځانگړې ډول د ازموينتي ډول د تجربوي ټاکنې څرنگوالی، په ازموينه او کتنو کې د کړنلارو تشريح کول، د نويو مسايلو او لاسته راوړنو روښانه کول، د څېړنې طرح، د بدلونونو ښودل او دا چې په دې ازموينه کې برخه‌وال له څه ډول پېښو سره مخامخ شوي دي، تشريح او توضيح کېږي.

د کيمياوي ازموينو د تر سره کولو په ترڅ کې بايد د کارېدونکو موادو ځانگړنې او بدلونونه، کارېدونکي کېټونه، له موادو څخه پيدا کېدونکی حساسيت او د کارېدونکو موادو اندازه بايد د يوې بېلگې په ډول ياده شي. يعنې دغه کيمياوي عمليه بايد په ټوله معنا توضيح شي، چې له کومو موادو کار اخيستل شوی، د موادو اندازه او له موادو څخه يا د تجربې وخت کې پيدا کېدونکی حساسيت، د موادو بدلون، دا ټول بايد په دې برخه کې تشريح شي، تر څو نور هغه کسان هم ورباندې پوه شي چې غواړي په راتلونکې کې دغه تجربه يوځل بيا تر سره کړي.

**و) د څېړنې اخلاقو ته پاملرنه**

دلته تر ټولو مهم د څېړنې د کمېټې او د دغې طرحې د بيا کتنې د کمېټې رضايت تر لاسه کول دي او د دوی يادونه بايد په خپله څېړنه کې وشي؛ يعنې د هغو کسانو يادونه وشي کوم چې د دغې څېړنې د طرحې د منلو او يا هم نه منلو لپاره گمارل شوي وي.

**ز) د لاسته راوړنو او پايلو د تحليل ډول او طريقه**

هغه کړنلاره چې د پايلو د تجزيې او تحليل په برخه کې ورڅخه کار اخيستل شوی، بايد يادونه يې وشي، خو په دې برخه کې د هغو وسايلو د نومونو يادول او راوړل اړين نه دي چې په دې ازموينه کې ورڅخه کار اخيستل شوی دی، ځکه چې ډېری ازموينښتونه پېژندل شوي دي او اړتيا نه ليدل کېږي چې هغه دې توضيح شي، خو که چېرته دغه ازمايښت پېژندل شوی نه و، نو د هغې د کارونې او لاسته راوړنې سرچينه بايد وښودل شي.

**د مقالې د ليکلو تگلاره او ميتود**

په دې برخه کې بايد لاندې ټکي په پام کې ونيول شي.

**۱. د څېړنې ميتود:** په څېړنه کې چې له کومو ميتودونو څخه گټه اخيستل شوې وي؛ لکه تاريخي، توصيفي، تحليلي او نورو مېتودونه بايد يادونه يې وشي، ځکه دا بايد وښودل شي چې دغه څېړنه د کوم ميتود په رڼا کې تر سره شوې ده يا د څېړنې په بشپړلو کې له کوم ميتود څخه کار اخيستل شوی دی.

**۲. د ټولنيزو توپيرونو ښودل:** د ټولنيزو توپيرونو د معلوماتو وړاندې کول؛ لکه د يو چا سن(عمر)، جنس (نارينه يا ښځينه) او نور توپيرونه ښودل اړين دي، ځکه تر څو لوستونکی پوه شي، چې دغه څېړنه په کومو کسانو تر سره شوې ده يا په څېړنه کې ځرنگه کسانو يا هم د کوم عمر او جنس کسانو برخه اخيستې ده.

**۳. د نمونې اخيستنې دود او طريقه:** د بېلگې يا نمونې، ځانگړنې له انځورنه سره را وړل، پر ټولنه يا د ټولنې پر اوسېدونکو باندې چې د کوم افت له امله ستونزې را غلې وي، د بېلگې او نمونې په راوړلو سره د هغو ښودل. په دې برخه کې بايد له داسې يو چارټ څخه کار واخيستل شي چې دغه ناروغۍ د څېړنې په بېل بېل وخت کې څرگنده شي. کېدای چې د يوې ناروغۍ له امله د ټولنې خلک متضرره شوي وي، خو که دغه څېړنه په څو پړاونو کې تر سره شي، نو د متضررينو شمېر بايد کال يا د بېلابېلو مياشتو په ترڅ کې وښودل شي. د يادونې وړ ده چې د بېلابېلو علومو په برخه کې په څېړنه کې کارېدونکي ميتودونه په نظر کې ونيول شي او د هغوی په رڼا کې نمونې او بېلگې وړاندې شي.

**۴. د پايلو د راټولو وسايل:** په څېړنه کې د کارېدونکو وسايلو او د هغو ځانگړنو ته بايد اشاره وشي، په ځانگړي ډول کله چې له نويو جوړو شويو وسايلو څخه کار اخيستل شوی وي.

**۵. د پايلو د لاسته راوړلو طريقه:** په څېړنه کې ترسره شوو پړاوونو ته بايد اشاره وشي او د معلوماتو را ټولولو د څرنگوالي او د څېړونکي د کار څرنگوالی بايد وښودل شي.

**٦. د لاسته راغلو پايلو تحليل او شننه:** د څېړنې په ترڅ کې له ازموينې څخه لاسته راغلې پايلې بايد تحليل او وشنل شي؛ يعنې پايله او د هغې اغېزې بايد تحليل شي.

د موادو د ليکلو بنسټيز ټکي او په دې برخه کې د لاندې درېوو برخو ليکل مهم دي:

**الف) د څېړنې طرحه او برخه‌وال**

۱. د څېړنې د طرحې او برخه‌والو په برخه کې بايد هيڅ ډول پايله بيان نه شي.

۲. په لومړيو کې د برخه والو ځانگړنې يادې شي، کوم کسانو، څومره کسانو او د کومو ځانگړنو له مخې گډون کوونکي غوره شوي يا ټاکل شوي دي.

۳. د برخه‌والو ډول، په څېړنه کې په خپله خوښه او يا نه حاضرېدونکي کسان وښودل شي. يعنې په څېړنه کې څومره کسان په خپله خوښه حاضر شوي او څومره کسان اړ شوي دي چې بايد په څېړنه ۲مخ

# زېرى

د تأسیس کال ۱۳۱٦ هجري شمسي

علمي، څېړنيزه او ادبي پنځلس ورځنۍ جريده

د افغانستان د علومو اکاډمي
د ژبو او ادبیاتو مرکز څېړنیز ارګان

**مسئول مدیر:** څېړندوی احسان الحق کبیر

**کتنپلاوی:** څېړنپوه دوکتور سید محي الدين هاشمي، څېړندوی احسان الحق کبیر، څېړندوی مطیع الله ساحل، څېړندوی لطف الله صابر، څېړنیاره شفیقه نوري.

**د اړیکې شمېره:** (+۹۳)۷۴۴۴۸۷۳۳۵

**برېښنالیک:** zerai1316@gmail.com

● په زېري جریده کې له سرلیکنې پرته، د نورو لیکنو سپیناوی په خپله د لیکوالو پرغاړه دی.

www.asa.gov.af

د علومو اکاډمي، د ژبو او ادبیاتو مرکز، زنبق څلورلارې، نوی ښار
کابل- افغانستان

**د یوې ګڼې بیه:** پنځه افغانۍ

**د ۱۴۰۰ ل.کال د غبرګولي میاشت | ۵-٦مه ګڼه | پرله پسې ۳۷۳-۳۷۴مه ګڼه**


## د فرهنګي او ادبي خبرونو پیښلیک



خېړنوال محمد آصف احمدزی

## په څلورو پوهنتونونو کې د پښتو ژبې او ادب د ماسترۍ پروګرامونه منظور شول

د جمهور رئیس محمد اشرف غني د حکم له مخې د څلورو ولایتونو (کندهار، خوست، بلخ او هرات) په پوهنتونونو کې د پښتو ژبې او ادب په برخه کې د ماسترۍ پروګرامونو پیلېږي.

تردې مخکې یواځې په کابل پوهنتون او ننګرهار پوهنتون کې دغه برنامې موجودې وې. په یادو پوهنتونونو کې د ماسترۍ برنامې په پیلېدو سره به د پښتو ژبې او ادب محصلان وکولای شي چې په اسانۍ سره خپلو لوړو زده کړو ته دوام ورکړل شي.

## په پېښور کې د میرویس نیکه په یاد سیمینار جوړ شو

د کوزې پښتونخوا په مرکز پېښور ښار کې د میرویس نیکه په یاد سیمینار جوړ شو، په دې سیمینار کې د لر او بر پښتنو لیکوالو او مشرانو برخه اخیستې وه.



دا سیمینار د وزیر محمد ګل خان پښتو اکاډمۍ او د صابر د رڼا ملګري تحریک له خوا د غبرګولي میاشتې پر لومړۍ نېټه په ګډه جوړ شوی و.

د دغه سیمینار تنظیموونکي سید صابر شاه صابر په خبره، د کوزې پښتونخوا په نصاب کې د پښتنو د مشرانو په اړه ډېر معلومات نشته، نو دا ډېر اړین و چې د نوي نسل د معلوماتو لپاره د پښتنو د سترو مشاهیرو په اړه دا ډول سیمینارونه جوړ شي.

د سیمینار ګډونوالو د میرویس نیکه د مبارزې او خدمتونو په اړه خپلې مقالې او نظمونه وړاندې کړل. آمخ

## د علومو اکاډمي د ژبو او ادبیاتو مرکز نوې رئیسه معرفي شوه

د افغانستان د علومو اکاډمي د ژبو او ادبیاتو مرکز رئیسه څېړنواله جمیله سروري د دې مرکز د رئیسې په توګه د غبرګولي پر لومړۍ نېټه معرفي شوه او خپلې چارې یې پیل کړې.

تردې مخکې څېړنواله عاطفه نورستانۍ د یاد مرکز مسئولیت درلود.

## د سنځل ګل مشاعره ونمانځل شوه

د لوګر ولایت د اطلاعاتو او فرهنګ ریاست په انګړ کې د غبرګولي پر ۳مه د سنځل ګل کلنۍ دودیزه مشاعره جوړه شوه.



د سنځل ګل د پنځلسمې مشاعرې په ویاړ ټولو شاعرانو ته د لوګر له ډېرو ښخه د لوګر د حکاکانو په زیار جوړ شوي ایوارډونه ورکړل شول.

د سنځل ګل د پنځلسمې دودیزې مشاعرې په څنډو کې د ښکلو هنرونو، کتابونو، قدیمي توکو، د مس عینک اثارو ننداړتونونه، د اخبارونو کلیکسونونه ننداړې ته وړاندې او دغه راز لوګرۍ موسیقي هم پر ګډونوالو واورول شوه.

## په مزار شریف کې د پښتو، دري او اوزبکي ژبو د سولې مشاعره جوړه شوه

د بلخ ولایت په مرکز مزارشریف ښار کې (یو غږ د سولې لپاره) په نوم



رقابتي مشاعره د غبرګولي پر ۴مه جوړه شوه.

په دغې مشاعرې کې د پښتو، دري او اوزبکي ژبو شاوخوا ٦۰ شعرونه سیالۍ ته وړاندې شوي وو، چې په پایله کې یې پنځه غوره شعرونه انتخاب او شاعرانو ته یې ډالۍ ورکړل شوې.

یاده مشاعره د افغان ځوانانو ملي غورځنګ له خوا جوړه شوې وه.

## د پښتو ژبې ورځ ونمانځل شوه

د لغمان ولایت د اطلاعاتو او فرهنګ ریاست له لوري د پښتو ژبې ورځ (د غبرګولي ۸مه) ونمانځل شوه.



د دې ورځې د قدردانۍ په ویاړ د ساوي ژبې لیکوال ګلاب شاه مسلم ۱۷۳ جلده د پښتو او ساوي ژبې لیکل شوي کتابونه د لغمان عامه کتابتون ته ډالۍ کړل.

هغه په خپلو خبرو کې وویل: «ډېر کتابونه مې له




ساوي ژبې پښتو ته ژباړلي دي، دا کتابونه مې تاسو ته ډالۍ کړل ترڅو د ساوي ژبې له ګرامر او نورو فرهنګونو څخه لوستونکي خبر شي؟.»

د یادولو ده چې پر لغمان سربېره په ګڼو نورو ولایتونو او سیمو کې هم د پښتو ورځ ونمانځل شوه.

## بغلان پوهنتون کې د دوو شعري ټولګو مخکتنه وشوه

د بغلان پوهنتون د ادبیاتو او بشري علومو پوهنځي کې د پوهنمل ګل الرحمن رحماني د څلورمې شعري ټولګې «تر غبار لاندې چینه» او د دې پوهنځي د محصل اکرام الله امید د «بې روحه وجود» شعري ټولګې مخکتنه د غبرګولي پر ۱۳مه وشوه.



شاعر او لیکوال پوهنمل ګل رحمن رحماني په دې اړه په خپلو خبرو کې وویل: «زما د غزل په ائینه کې یا زما د غزل په تورو کې د هېواد روان وضعیت روان ناورین او تر ډېره پورې هغه بدبختۍ په هنري ژبه یا په هنري تصویرونو کې انځور شوې دي، چې نن سبا زمونږ او ستاسو ولس ورسره مخامخ دی. دلته تر ډېره پورې د یوه یتیم ژړا د یوې کونډې درد، د سولې د نشتوالي په باره کې د یوه کلي خراب وضعیت، ژړېدلی پسرلی، درېدلي بارانونه او وچکالي تر ډېره پورې د ځوان نسل خصوصاً د لوستي نسل هغه هیلې دي چې لا هم ځپل شوې دي.»

بل شاعر اکرام الله امید په دې اړه وایي: «په کتاب کې مې پیغام ټول د ټولنې هغه انځور دی چې زمونږ خلک هر وخت د جګړې شاهد وي، نو په همدې اساس مې د ټولنې ناخوالې د شعر په ژبه انځور کړې دي.».

## د پښتو معاصر ادب مخکښ لیکوال طاهر اپریدی وفات شو

د پښتو داستاني ادبیاتو مشهور لیکوال طاهر اپریدي د ۸۲ کالو په عمر د کراچۍ په ښار کې د ۱۴۰۰هـ. ش کال د غبرګولي پر ۱۵مه (د ۲۰۲۱م کال د جون ۵مه) د ژوند پور پرې کړ.

طاهر اپریدی له څه موده راهیسې ناروغ و او په دا وروستیو کې یې د کرونا ویروس معاینه مثبته راوتلې وه.

اپریدی چې اصلي نوم یې ترکستان و، د ادم خېلو درې، حسن خېلو د بوره نومي کلي اوسېدونکی و او په ۱۹٦۰م کلونو کې د کاروبار لپاره کراچۍ ته تللی و چې بیا د عمر تر پایه هملته پاتې شو.

په چارسده کې د باچا خان پوهنتون د پښتونخوا څېړنیز مرکز پروفیسر محب وزیر وایي، طاهر اپریدي په خپل کلي کې له لومړنیو زده کړو وروسته په کراچۍ کې



په ۱۹٦۰ کلونو کې د شخصي- کاروبار تر څنګ پښتو لیک او لوست هم پیل کړل، چې د عمر تر پایه ورته ژمن پاتې شو.

د طاهر اپریدي د ټولو چاپ شویو کتابونو شمېر نږدې ۲۰ ته رسېږي. د هغه په آثارو کې ناولونه، لنډې کیسې، راپورتاژونه، نقد او یونلیکونه شامل دي.

د افغانستان د علومو اکاډمۍ مشر څېړنپوه دکتور عبدالظاهر شکیب د هغه د ژوند او آثارو په اړه وایي: "ښاغلی اپریدی په پښتو معاصرو لیکوالو کې د ځانګړې نوم څښتن و، د پښتو ژبې ادب ته یې خورا ښې او په ټول پوره لنډې کیسې ډالۍ کړې دي." آمخ

## مصطفی عمرزی له موږ جلا شو

لیکوال او خبرونکی مصطفی عمرزی د کرونا ناروغۍ له امله په کابل ښار کې د ۱۴۰۰هـ. ش کال د غبرګولي پر ۱۵مه وفات شو.



ده چې د کابل پوهنتون ژورنالیزم پوهنځی لوستی و، له تېرو څه باندې لسو کلونو راهیسې د خصوصي تصویري رسنیو په فرهنګي برخه کې کار کاوه، یو مهال د قلم جریدې مسئول مدیر و.

دی د ګڼو آثارو څښتن دی چې زیاتره یې په دري ژبه دي او څینې یې بیا له پښتو څخه دري ته ژباړلي دي. آمخ

## عناب ګل پنځلسمه مشاعره جوړه شوه

په فراه کې سلګونو شاعرانو د عناب ګل پنځلسمه دودیزه مشاعره په شاندارو ولولو د غبرګولي پر ۱۹مه ونمانځله.




په دغه مشاعره کې چې پر فراه سربېره ورته د کابل، ننګرهار او بېلابېلو ولایتونو څخه شاعران بلل شوي وو، د شعر په ژبه د هېواد رواني ناخوالې وغندل شوې او د عناب ګل د ښکلا او عناب د طبي ګټو ستاینې وشوې.

د مشاعرې یوه برخه تمثیلي پارچو ته ځانګړې شوې وه.

## د احمدشاه بابا د ۲۴۹ تلین په ویاړ علمي سیمینار جوړ شو

د کندوز فرهنګي ځوانانو د احمدشاه بابا (رح) د ۲۴۹ تلین په ویاړ د غبرګولي پر ۲۰مه علمي سیمینار ترسره کړ.

د ستر امپراتور احمدشاه بابا (رح) د ۲۴۹ تلین په ویاړ د فرهنګي ځوانانو له لوري جوړ شوي علمي سیمینار کې د پوهنتون استادانو او علمي او فرهنګي شخصیتونو ترڅنګ قومي مخورو، ځوانانو او د سیمه ییزو ادارو مسئولینو ګډون کړی وو.

د سیمینار ویناوالو د ستر امپراتور احمدشاه بابا د ژوند په بېلابېلو برخو، په افغانستان کې د مرکزي آمخ



## په کابل کې د ۱۲ ولایتونو شاعرانو په ګډون د سولې مشاعره ترسره شوه

یو شمېر مدني فعالانو او ځوانو شاعرانو په کابل ښار کې (د سولې لپاره مشاعره) په نوم مشاعره ترسره کړه چې د ۱۲ ولایتونو شاعرانو په کې ګډون کړی وو.



دغه مشاعره د غبرګولي پر ۲۰مه جوړه شوه چې د شاعرانو په شعرونو کې د سولې د ټینګښت او د جګړې د پای ته رسولو پیغامونه وو.

## پوهاند باوري د ژوند له قافلې جلا شو

د افغانستان پیاوړی لرغون پېژندونکی، لیکوال او څېړونکی پوهاند محمد رسول باوري د ۱۴۰۰هـ. ش کال د غبرګولي پر ۲۲مه د شنبې سهار وختي د کرونا ناروغي له امله د ٦۴ کلونو په عمر د حق داعي ته لبیک ووایه.

د هغه جسد ته د شنبې په ماسپښین (د غبرګولي پر۲۲مه) د کابل په سردار



محمد داود خان روغتون کې د هېواد د یو شمېر لوړپوړو مسئولینو له خوا د احترام مراسم ترسره شول او بیا د کندهار په لور ولېږدول شو. دی د یکشنبې په ورځ (د غبرګولي ۲۳مه) مازیګر د کندهار پوهنتون په صحن کې د مشاهیرو په هدیره کې خاورو ته وسپارل شو.

پوهاند رسول باوري په ۱۳۳٦هـ. ش کال کې د اروزګان ولایت په دهراود ولسوالۍ کې زېږېدلی و، په ۱۳۵۴ کال په دې ولایت کې له سیدال خان لیسې فارغ شو، په ۱۳۵۸ لمړیز کال کې یې په کابل پوهنتون کې په تاریخ کې لیسانس او په ۱۳٦۴ لمړیز کال کې په تاریخ کې ماسټري وکړه. آمخ

## لیکوال او ژورنالیست نبي مصداق وفات شو

پیاوړی څېړونکی، لیکوال او ژورنالیست نبي مصداق د کووېډ-۱۹ ناروغۍ له کبله د ۱۴۰۰هـ. ش کال د غبرګولي پر ۲۴مه د دوشنبې په شپه په حق ورسېد.



د هغه جنازه د کابل په عیدګاه جومات کې ادا شوه. په دغو مراسمو کې د اړوانښاد د کورنۍ غړو، خپلوانو او دوستانو او یوشمېر حکومتي مسئولینو، د ملي شورا غړو، خبریالانو او د مدني ټولنې فعالانو هم ګډون لاره.

د نوموړي جسد د کابل په شهداء صالحینو کې خاورو ته وسپارل شو.

نبي مصداق په ۱۹۴۴م کال د پکتیا ځاځیو کې زېږېدلی و. د کابل له رحمان بابا لیسې څخه فارغ شو او د ښوونځي تر بشپړولو وروسته د لوړو زده کړو لپاره بریتانیا ته ولېږل شو. هغه بریتانیا کې تر لیسانس آمخ

## د عبدالله مقري غږ د تل لپاره ټپ شو

د افغانستان د موسیقۍ وتلي څېره سندغاړی عبدالله مقری چې څو ورځې په روغتون کې بستر و، د ۱۴۰۰هـ.ش کال د غبرګولي پر ۳۰مه وفات شو.

د هغه د جنازې مراسم د کابل په شهید سردار داوود خان روغتون کې ترسره، د جنازې لمونځ یې د دوشنبې په ورځ (د غبرګولي ۳۱مه) د



کابل ښار په عیدګاه کې ادا شو او بیا په شهداء صالحینو کې خاورو ته وسپارل شو.